




ضياألدين « همت مل »
د نشر نيټه : ۲۳ جولای ۲۰۱۳ ميلادی

# ختيځ ادبي بهير خپله دوه پنځوسمه اونيزه ناسته

ختيځ ادبي بهير خپله دوه پنځوسمه اونيزه ناسته د۱۳۹۲لمريزکال دچنګاښ په ۲۸ نيټه د ننګرهارد ميديوتيک په انګړ کې د عبدالعزيز « شجاع » په وياندويی ترسره کړه.

د غونډې د پرانستې لپاره دا ځل قاري عبدالله « سهار» د تلاوت په موخه دريځ ته وبلل شو .
تر تلاوت وروسته د شاعر ، ليکوال او ژورناليست امين الله« زهير» ورور ته ، چې په يوه ترافيکي پېښه کې وفات شوی و د دعا لاسونه لپه شو .
د تيرې اونۍ ګزارش عرفان الله « بيدار » ليکلی و ، خو د هغه په نشتوالي کې د شجاع لخوا ولوستل شو. په ګزارش څه ونه ويل شول او ټولو پرې د تاييد سر و خوځاوه .
ضياالدين « همت مل » ژمنه کړې وه ، چې په نوې غونډه کې به د يوه ښه کتاب په منځپانګه خبرې کوي ، چې د خپلې ژمنې سره سم دريځ ته پورته شو او د استاد محمد داود« وفا» په نوي چاپ شوي اثر ( د فوکلورپيژندنې لارښود ) خپل تاثر ښکاره کړ .
همت مل ياد کتاب په دې برخه کې يوه ستره پانګه وبلله او يادونه يې وکړه ، چې د ادب مينه والو ته يې لوستل ډېر اړين دي .
هغه وويل : که څه هم په اوسني وخت کې د پوهنتون اکثره استادان په دې هڅه کې دي ، چې خپل درسي مواد د يوه کتاب په بڼه برابر کړي ، خو په وينا يې ، چې دا اثر بيا دومره کټور دی ، چې استاد وفا په کې له ډېرو ماخذونه ګټه اخستنه کړې ده .
همت مل دغه راز په خپلو خبرو کې وويل ، چې کتاب خوږ ليکل شوی دی او همدا ددې لامل کيږي ، چې هر لوستوال به يې د زړه په مينه ولولي .
د همت مل تر خبرو وروسته باز عابد دريځ ته پورته شو او د همت مل خبرې يې خوښې شوې عابد وويل : (( ما يوه اونۍ وړاندې همت مل ولېد ، چې د وفا صيب کتاب يې په لاس کې و او دغه دی نن يې مونږ ته د کتاب منځپانګه په ښه شکل تشريح کړه . ))
ښاغلي عابد وړاندې وويل (( وفا صيب نه وړاندې ډېرو نورو ليکوالو لکه هيوادمل ، رفيع صيب ، داور صيب ، عدالکريم پتنګ او ځينو نورو په دې برخه کې ښې ليکنې کړې وې ، خو دا کتاب بيا تر ټولو غوره او ښه دی ))

عبدالله « سهار» هم د همت مل کړې ځرګندوني و ستايلي ، خو ويي ويل ، چې د کاغذ پر مخ کوم يادښتونه ، چې همت مل اخستي دي هغه ښه منظم نه دي او په راتلونکي کې دې د يوې ليکنې په ځير خپور کړي .
په کتاب تر بحث وروسته يوه ازاده مشاعره وشوه ، چې تر شلو زياتو کسانو په کې شعرونه وويل دغونډې د ارزوني لپاره بيا هم عبدالله « سهار » دريځ ته وبلل شو نوموړي زياته کړه ، چې په دومره ګرمی او د روژې په مبارکه مياشت کې د ځوانانو راټک ښيي ، چې دوی له خپل فرهنګ او ادب سره مينه لري .
په پای کې د راتلونکي اونۍ لپاره پرېکړه وشوه ، چې محمد اعظم « صديقي » به خپل غزل کره کتنې ته وړاندې کړي تر دې پريکړي وروسته غونډه پای ته ورسيده.

ضياألدين « همت مل »

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی